عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي

۱۰ ډسمبر ۲۰۱۵

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۹ ماده
**د افغانستان حالت**

**د امنیت شورا**
**اویایم کال**

# د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړی. پیژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۲۱۰ (۲۰۱۵) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان وضعیت په اړه راپو ر ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر پر لومړۍ نېټه زما د مخکني راپور (A/70/359–S/2015/684) او تر هغه وروسته د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر پر ۱۵ نېټه د امنیت شورا رییس ته زما د راپور (S/2015/713) له خپریدو راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. راپور دغه راز د افغانستان په تړاو د کلیدي سیاسي او امنیتي تحولاتو او سیمه ییزو او نړیوالو پیښو یو لنډیز وړاندې کوي.

### دویم. اړوند پرمختګونه

۳. له سوکه اقتصادي ودې، مخ پر زیاتیدونکو سیاسي فشارونو او عامه نارضایتي سره مله امنیتي تحولات د هغو ننګونو په څیر په ګوته شوي چې افغان حکومت ور سره مخ شوی. د طالبانو له خوا په موقت ډول د کندز ښار نیول، چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د لومړي ځل لپاره د بلواګرو له خوا د یوه ولایت مرکز نیول ګڼل کیږي، د جګړې زیات شوی شدت په ډاګه کوي چې پر ولسي وګړو یې اغیزې د خورا زیاتې اندیښنې وړ ګڼل کیږي. د دولت له خوا د نړیوالو امنیتي شریکانو د خپلو ژمنو د تمدید د پریکړې هرکلی وشو. که څه هم د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون زیاتره لومړنۍ سپارښتنې د ولسمشر غني له خوا تایید شوي، خو د انتخاباتي ساختار او د ټاکنو د نیټو په اړه سپارښتنې او وړاندیزونه لا تر اوسه ځنډېدلي. افغان دولت او ډونرانو د دوه اړخیزې حساب ورکوونې د چوکاټ له لارې تر ځان بساینې لاندې د چارو تطبیقول پیل کړي. که څه هم دولت د عایداتو د معیارانو د پوره کولو په تړاو د پرمختګ، او د عاید راټولو د کلیدي ادارو د ساختار د بیا جوړولو خبر ورکړی، د

اقتصاد عمومي انځور لا اوس هم پيچلى بريښي. د خلکو تر منځ د خپل راتلونکي په اړه اندېښنو د ګډوالۍ له زياتيدو سره مرسته کړې.

**الف. سياسي پرمختګونه**

۴. د طالبانو له خوا د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر له ۲۸ د اکتوبر تر ۱۳ پورې د کندز ښار نيول او د هيواد په شمال کې د امنيتي وضعيت خرابيدل د حکومت لپاره دوه تر ټولو شاتګونه ګڼل کيږي. له هغه وخت راهيسې د دې هڅه شوې چې په ټوله کې خلکو ته د احتساب رامنځ ته کولو او د خسارې جبران ورکولو ډاډ ورکړل شي. د اکتوبر له ۱ تر ۱۶ پورې موده کې، د کندز ولايت والي ګوښه کړ، د ولايت د مرکز د سقوط په اړه يې د حقيقت موندنې يو پلاوي يې وګماره او د وضعيت د ارزونې لپاره يې له دغه ښاره ليدنه وکړه. د اکتوبر پر ۲۶، پلاوي ولسمشر ته د خپلو موندنو لنډيز وړاندې کړ او د اکتوبر پر ۲۹ ته يې خپل راپور د ملي منيت شورا ته وړاندې کړي، سره له دې چې د پلاوې موندنې خپرې نه شوې. خو له دې سره سره د ملي اسامبلې غړو د حکومت له خوا د کندز ښار د ناورين او په هيواد کې د امنيتي وضعت په اداره کولو خپلې نيوکې جاري وساتلې. د نومبر پر ۲، ولسي جرګې د کورنيو چارو وزير لپاره د نه باور رايه واچوله کوم چې بريالى نه شو. پر حکومت د عامو خلکو فشارونه د نومبر پر ۱۱ د هغو لاريونونو له لارې په ډاګه شول په کومو کې چې لاريون کوونکې په زابل ولايت کې د اوو ملکي وګړو د وژنې له امله راپاريدلي وو او له هغوي سره د ټولنې نور محروم غړي هم يو ځای شوي، چې تر ولسمشريزې ماڼۍ يې لاريون وکړې او د ښه شوي امنيت او عدالت غوښتنه يې کوله.

۵. په کندز ښار کې نظامي شاتګ او د هيواد په نورو برخو کې بريدونو پر حکومت نېوکه کوونکي وهڅول او د تازه مخالفو/اپوزيسون ډلو د راڅرګنديدنې شاهد و. د پخواني ولسشمر حامد کرزي ملاتړو، د حکومت پخوانيو چارواکو او د مجاهدينو يو شمير پخوانيو مشرانو په مختلفو غونډو کې د پاليسي په جوړولو، په کليدي ګمارنو يا د حکومت په اصلاحاتو کې د پراخ رول غوښتنې وکړې. په دغو غوښتنو کې د لويې جرګې ترسره کول شامل و، د اساسي قانون هغې جرګې ته په ارجاع سره چې د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر د ۲۱ نيټه په تړون کې يې وړاندوينه شوې وه چې په پر بنسټ يې د ملي يو والي حکومت رامنځ ته شوی، يا په نورو شکلونو د جرګې ترسره کول. د ملي اسامبلې د يوه شمير غړو له خوا هم ورته غوښتنې ترسره شوې. په داسې حال کې چې ولسمشر غني او د هغه سلاکارانو په مکرر ډول د پوهاوي او ډيالوګ د هڅو پر بنسټ له دغو لورو سره په ډله ييز يا انفرادي ډول کتلي، چې په مشخصو حالاتو کې د يو شمير له خوا د اجماع رامنځ ته کولو پر ځای د مشارکت تمثيلولو په څير تفسير و تعبير شوي.

۶. سياسي او امنيتي تحولات د حکومت او امنيتي خالي منصبونو لپاره د ولسمشر له خوا د يو شمير ګمارنو لامل شول. ولسمشر غني د بغلان، بدخشان، سرپل او تخار د شمالي ولايتونو په ګډون د اتو خالي ولايتونو لپاره ګمارنې ترسره کړي. په هيواد کې له ۳۴ ولايتونو څخه درې هغه يې د سرپرستانو له خوا اداره کيږي. سربيره پر دې، ولسمشر د افغان ملي پوليسو اته سيمه ييز قوماندانان، د ملي امنيت د رياست څلور نوي ولايتي رييسان او څلور د پوليسو امنيه قوماندانان وګمارل. ولسمشر همدارنګه احمد ضياء مسعود په اصلاحاتو او ښې

حکومتولۍ کې د خپل ځانګړي استازي په څیر وګماره، چې دغه رتبه د ولسمشر د مرستیالۍ له هغې سره برابره ده. له دې سره سره، د دفاع وزارت منصب لا اوس د یوه سر پرست له خوا په مخ وړل کیږي او د لوي څارنوال منصب لا اوس هم خالي دی.

۷. د ټاکنیزو اصلاحاتو پروسه لا اوس هم روانه ده. د سپتمبر پر ۶، ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون له ۱۰ لومړنیو سپارښتنو ۷ هغه یې تایید کړې، د رایه ورکوونکو د ثبت، د رایې اچوونې د مرکز د تشخیص، د کمیشنرانو د هیئت لپاره د وړتیا د شرایطو او د انتخاباتي کمیشنرانو د ګمارنې د پروسې د هغو په ګډو. هغه سپارښتنه چې په ولایتي او ولسوالیو شوراګانو کې دې د ښځو خوندې شوې ونډه بیرته ۲۵ سلنې ته لوړه شي، تایید شوه چې په دې سره هغه ونډه چې په ۲۰۱۳ کې په ترتیب سره ۲۰ او صفر ته راکم شوې بیرته لوړه شوه. ولسمشر پاتې درې سپارښتنې د لا زیاتې توضیح لپاره بیرته کمیسیون ته راجع کړې. په دغو دریو رد شویو سپارښتنو کې د راتلونکو ټولو ټاکنو لپاره انتخاباتي سیستم، د کوچنیو انتخاباتي حوزو په اړه نظرېې او د ځايي ادارو د څارنې لپاره د شفافیت د کمیټې تاسیسول شامل وو. تمه کیږي چې کمیسیون به د ۲۰۱۵ د ډسمبر تر پایه خپلې وروستۍ سپارښتنې وړاندې کړي. د سپارښتنو د لومړۍ ټولګې تر سپارلو وروسته د انتخاباتي سیستم د ډول پرسره له سپارښتنو سره د مخالفتونو په پایله کې د کمیسیون په مباحثو کې د دغه کمیسیون د دوو غړو د نه ګډون د پریکړې پایلې لا تر اوسه نه دي مشخصې شوې. ملګرو ملتونو د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون د یوه ناظر غړي په څیر د تخنیکي مرستې او سلا مشورو له لارې د اصلاحاتو له پروسې سره خپل ملاتړ جاري ساتلی.

۸. د سپتمبر پر ۶، ولسمشر غني دوه تقنيني فرمانونه صادر کړي چې د ټاکنو قانون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ساختارونه، دندې او صلاحیتونه تعدیلوي، څو د ټاکنیز اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون سپارښتنې تطبیق کړي. د سپتمبر په منځ کې، حکومت دغه راز د غوراوي د اووه کسیزې کمیټې جوړول پیل کړل چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لپاره د نوماندانو د نومونې مسوولیت لري. کمیټې دغه د ولسمشر غني له خوا دنده سپارل شوې چې د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون د سپارښتنو په پام کې نیولو سره د ټاکنو مهالویش چمتو کړي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون لا تر اوسه د پارلماني او ولسوالۍ شوراګانو د ټاکنو مهالویشونه نه دي اعلان کړي.

۹. د ۲۰۱۵ کال د جولای له ۷ نېټې راهیسې په مري کې د پاکستان له خوا تسهیل شوي خبرې اترې، په تعقیب یې د ملا عمر د مړینې اعلان او په افغانستان کې د امنیتي وضعیت خرابیدل، د سولې پروسې احتمالات په خپل حال پاتې دي. د دې طالبانو ترمنځ د اختلافاتو او کړکیچونو سره سره د دې انګیرنه شته چې نظامي لاسته راوړنې به د طالبانو نوی مشر ملا منصور د دې جوګه کړي چې د ډلې مشرتابه یو موټی کړي. د سپتمبر پر ۱۹، له ملا منصور له مشرۍ سره د طالبانو یوې مخالفې ډلې یوه بیانیه خپره کړه چې ادعا یې کوله چې د طالبانو ترمنځ د یووالي د بیرته راوستلو هڅې ناکامې شوي. د نومبر په لومړیو کې، د ملا منصور مخالفې د طالبانو ډلې د هغه پر ځای ملا محمد رسول اخوند خپل مشر وټاکه چې د راپورونو له مخې په تعقیب په زابل ولایت کې نښتې رامنځ ته شوې. د طالبانو له خوا د کندز ښار تر نیونې وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ کړکیچ زیات شو. یو

شمیر افغان سیاسي مشرانو تور پورې کړی چې د پاکستان نه فعالیت/اقدام د طالبانو نظامي عملیاتو لپاره زمینه برابره کړې. دغه تور د پاکستان له خوا رد شو. د اکتوبر پر ۹، د حزب اسلامي ګلبدین ډلې په ښکاره د طالبانو له خوا د کندز ښار پر نیونه نېوکې وکړې او د سولې خبرو اترو لپاره یې اجنډا وضع کړه. د اکتوبر له ۲۱ تر ۲۳ پورې له واشنګټن ډې سي څخه د لیدنې پرمهال د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د خبر اترو د تسهیلولو لپاره خپل دوامدار چمتوالی په ډاګه کړ، خو د هغو هم مهالو غوښتنو سره یې د موجوده اختلاف یادونه وکړه چې دغه ډله دې بې طرفه کړای شي. له افغان دولت سره په سلا مشوره، زما ځانګړې استازي په اړیکو کې د ښه والي د تسهیل په یوه هڅه کې چې د سولې پروسې لپاره مساعد وي، د سیمه ییزو ګاونډیانو په ګډون له ټولو لورو سره خپل ګډون جاري ساتلی.

۱۰. د دغه شاتګ په خلاف، د ملي فعالینو په ملاتړ د ثبات د پیاوړي کولو لپاره یو ځایي نوښت نهایي شو. د سپتمبر پر ۷، د اوربند یو ځایي تړون چې د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالۍ کې د ډنډ غوري سیمې تر پوښښ لاندې نیسي، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، د بغلان والي او قبایلي مشرانو ترمنځ لاسلیک شو. د راپورونو له مخې دا د افغان دولت په رسمي اجازه لومړنی اوربند دی، په تړون کې تصریح شوې چې په دغه سیمه کې به نه طالبان او نه هم افغان امنیتي ځواکونه نظامي عملیات ترسره کوي. له دې سره سره، ځینو شریکبانو دغه اوربند ته د طالبانو د ژمنتیا په مقابل کې چې هغه به په سیمه کې د خپل پراخ موقف د غښتلي کولو لپاره کاروي، دغه تړون تر پوښتنو لاندې نیولی، او پر ولسوالۍ یې د دولت د کمزوري کنترول په اړه خپل اندېښنه په ډاګه کړې.

۱۱. د اکتوبر پر ۱۲ په کابل کې، د دولت د دیني شوراګانو، خپلواکو روحاني او مذهبي علماؤو نږدې ۵۰۰ استازي، په افغانستان کې د سولې راوستلو په ملاتړ د علماؤو په ملي کنفرانس کې ګډون وکړ، کوم چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په ملاتړ د سولې د عالي شورا له خوا تسهیل شوی و. ګډونوالو یو پرېکړه لیک تصویب کړ، کوم چې د ولسمشر غني له خوا تایید شو کوم چې د حکومت د هغو هڅو ملاتړ کوي چې د سولې د ترلاسه کولو لپاره د شخړې ټولې ښکیلې خواوې سره یو ځای راغونډوي. یوناما د کندهار، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د ځانګړو بین الافغاني ډیالوګ سره خپل ملاتړ جاري ساتلی، چې د سولې او پخلاینې په ملاتړ کې د ځوانانو، قومي مشرانو او دیني علماؤو د رول په څېر مختلفې پیښې تر پوښښ لاندې نیسي.

**ب. امنیت**

۱۲. په ۲۰۱۴ کال کې د ورته مودې په پرتله په دغې موده کې په عمومي ډول امنیتي پیښې زیاتې او تشدید شوې. د طالبانو له خوا په موقت ډول د کندز ښار نیول او دغه راز له اګست څخه د نومبر تر پای پورې موده کې د هیواد په شمالي برخو کې د ۱۶ ولسوالیو د مرکزونو نیول هغه ننګونې دي چې حکومت او امنیتي ځواکونه ورسره په ټول هیواد کې د ثبات په ساتلو کې مخ شوي. د دغو تحولاتو/پرمختګونو په تعقیب او د ناټو د وزیرانو له سرمشریزې وروسته چې د دغه سازمان په مرکزي دفتر کې په بروکسل کې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر پر ۸ نېټه ترسره شوه، نړیوالو امنیتي ژمنه وکړه چې د امریکا د متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ تر دوه اړخیز امنیتي تړون لاندې

د پلان شویو ځواکونو ژمنې او د ناټو د پریکنده ملاتړ ماموریت لپاره د سرتیرو وضعیت ترون بیا وګوري. د افغان دولت له خوا د دغو ژمنو هرکلی وشو. د جګړې له امله د رامنځ ته شویو د زیاتو خطرونو په پایله کې په تیره بیا په ښاري سیمو کې، ملکي فعالینو لکه ملګرو ملتونو له اړتیا سره د پروګرام فعالیتونه کم کړي او موقت ډول یې له کندز، بغلان، بدخشان او فاریاب ولایتونو څخه خپل کارمندان نورو سیمو ته لیږدولي.

۱۳. د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې له افغان دولت سره تر خبرو اترو وروسته، د امریکا متحده ایالاتو خپله دا پریکړه بیا له سره وکته چې د ۲۰۱۶ کال تر پایه له افغانستان څخه د ۱۰۰۰ نظامي پرسونلو پرته ټول ځواکونه وباسي. د اکتوبر پر ۱۵ د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما ژمنه وکړه چې د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د ۹۸۰۰ په کچه امریکایي ځواکونه او په ۲۰۱۷ کې د افغان ځواکونو د دوامدارې روزنې او تروریزیم ضد عملیاتو سره د ملاتړ په موخه ۵۵۰۰ ځواکونه په هیواد کې پریږدي. په ورته ورځ ولسمشر غني د امریکا د متحده ایالاتو د دغې پریکړې هرکلی وکړ او هغه یې د دواړو هیوادونو ترمنځ د ګډون او همکارۍ د پیاوړتیا وسیله وګڼله. د پریکنده ملاتړ ماموریت په برخه کې، د ایټالیا، ترکیې بریتانیا په ګډون د ناټو نورو غړو هیوادونو د خپلو ځواکونو د ساتلو ژمنه وکړه- له بلې خوا جرمني په دې برخه کې د خپلو ځواکونو د زیاتولو یادونه وکړه.

۱۴. د ۲۰۱۵ کال د اګست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د ملګرو ملتونو له خوا د ملکي فعالینو د کار، خوځښت او خوندیتوب په تړاو د امنیتي پرمختګونو/تحولاتو په څارنه کې ۶۶۰۱ پیښې ثبت شوي، چې د دې پوتنسیال درلودونکي وې چې د ماموریت د ترسره کولو فعالیتونه او پروګرامونه اغیزمن کړي. د پیښو شمیر په ۲۰۱۴ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، چیرې چې ۵۵۱۶ پیښې ثبتې شوې وې. زیاتره (۶۲ سلنه) دغه پیښې د هیواد په جنوبي، جنوب ختیځو او ختیځو برخو کې راپور شوي. په دغو دریو سیمو کې د امنیتي پیښو تناسب/انډول په وروستیو کلونو کې ثابت پاتې شوی، دغه راز د طالبانو له خوا د کندز ښار د موقتې نیونې په ګډون په شمالي او شمال- ختیځو برخو کې د نا امنیو په شدت او د ثبت شویو پیښو په شمیر کې د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته شوي، چې سرپل، فاریاب، جوزجان، کندز او تخار ولایتونه تر ټولو ناامنه وو.

۱۵. د راپور ورکولو په موده کې د کندز ښار په نیونې سربیره، د ۱۶ ولسوالیو مرکزونه هم نیول شوي، چې زیاتره یې په شمال (بدخشان، بغلان، فاریاب، کندز، سرپل او تخار)، ځینې یې په لویدیځ (فراه) او جنوبي (هلمند او کندهار) سیمو کې پرتې دي. افغان ملي امنیتي ځواکونه په دې وتوانیدل چې د اکتوبر تر ۳۱ پورې د کندز ښار او دغه راز د ۱۳ ولسوالیو کنترول بیرته ترلاسه کړي. په سپتمبر او اکتوبر میاشتو کې د افغان امنیتي ځواکونو د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د غزني، فراه او فاریاب ولایتونو د مرکزونو د نیولو لپاره د طالبانو هڅې شنډې کړې، دغو هڅو د مودې تر پایه دوام پیدا کړ چې په هلمند کې یې شدت پیدا کړ. د وروستیو ارزونو سره سم، په هیواد کې نږدې ۲۵ سلنه ولسوالۍ تر جګړې لاندې دي. د کندز سقوط د طالبانو لپاره د پام وړ توکي او د پروپاګن ارزښت په لاس ورکړل. دغې پیښې د افغان ځواکونو په وړتیاوو کې مهمې نیمګړتیاوې په ډاګه کړې لکه د لوژیستک او پلان جوړونې، استخباراتو او هوایي ملاتړ او دغه راز په ځینو قضیو کې د نظامي او ملکي ادارو ترمنځ د کاري اړیکو د غښتلي کولو اړتیا په ډاګه کړه، کوم چې د راپورونو سره سم د کندز تر سقوط مخکې له کړکیچ سره مخ وې. یو شمیر نامي افغان سیاستوالو دافغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د دولت پلوه ملیشه ډلو، یا په

اصطلاح ځايي دفاعي ځواکونو د جوړولو وړاندیز وکړ. په یو شمیر ولایتونو کې د هغوي شتون په اړه په حکایتي ډول راپور ورکړل شوی.

۱۶. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ د جګړې سربیره، د راپور ورکولو موده په ننګرهار، زابل او غزني ولایتونو کې د دولت ضد عناصرو ترمنځ د تاوتریخوالي شاهده وه. په عراق او شام کې د اسلامي دولت سره تړلې ډلې یوه اندېښنه ګڼل کیږي، په تېره بیا په ننګرهار ولایت کې چیرې چې د ټول هیواد په پرتله په نسبي ډول د نومورې ډلې شتون د پام وړ دی. نا تایید شوي راپورونه په نومورې ولایت کې د داعش ډلې د ملاترو او طالبانو ترمنځ نښتي او د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د افغان امنیتي ځواکونو له خوا زیات چاپیز عملیات په ډاګه کوي چې له دغې ډلې سره تړلي جنګیالي په نښه کوي. د اکتوبر پر ۲۰، له داعش سره یوې تړلې ډلې په کابل کې د یوه شیعه مذهبه ډلې پر جومات د برید مسوولیت و مانه. په دغه نورو بریدونو کې د نومورې ډلې ښکیلتیا لا تر اوسه نه تایید شوې. په زابل ولایت کې، د یاغیانو ترمنځ د خپل منځي جګړو پر مهال د اوو شیعه مذهبو وژنې جګړې ته د فرقه ییز اړخ د ور داخلیدو په اړه نوې اندېښنې راولاړې کړې.

۱۷. د راپور ورکولو په موده کې، هغه وسله والې نښتې او پیښې چې د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو کارونه په کې شامله وه د امنیتي پیښو ستره برخه (د ټولټال پیښو ۶۸ سلنه) جوړوي. په ۲۰۱۴ کال کې د ورته مودې په پرتله په وسله والو نښتو کې ۲۰ سلنه زیاتوالی ثبت شوی. پر ولسي وګړو د خپل نفوذ د تثبیت او اعمال لپاره، دولت ضد عناصر هدفي وژنو او د خلکو تښتونو ته ادامه ورکوي. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې، ۴۴۷ داسې پیښې ثبت شوي چې وژنې او تښتونې په کې شاملې وې، چې په ۲۰۱۴ کال کې د ورته مودې د ۳۹۹ ثبت شویو په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د راپور ورکولو په موده کې په ټول هیواد کې ۲۲ ځانمرګي بریدونه ثبت شوي، چې ۱۰ په کابل ولایت کې راپور شوي. د دې سربیره، طالبانو او دولت ضد عناصرو په هیواد کې د قضایي/جزایي اداره په نښه کول جاري ساتلي. په غزني او کندز ولایتونو کې پر ولایتي محبسونو تر بریدونو وروسته، د سپتمبر پر ۱۴ او ۲۸ په ترتیب سره، د راپورونو سره ۱۰۰۰ بندیان چې د ملي امنیت پر جرمونو په کې تورن اشخاص هم شامل و، له زندانونو څخه ازاد شول. داسې راپورونه ورکړل شوي چې په دغو پیښو کې په غزني ولایت کې ۴ اصلاحي کارمندان او په کندز ولایت کې ۲۶ هغه وژل شوي.

۱۸. ټولټال ۴۳ امنیتي پیښې داسې وې چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په کې ملګري ملتونه ښکیل وو. زیاتره پیښې د ملګرو ملتونو د داخلي کارمندانو په وړاندې ترسره شوي. تر ټولو جدي پېښه یې هغه وه په کومه چې د اکتوبر پر ۱۲ په کندهار کې د ملګرو ملتونو یو کارمند ووژل شو. د خپرې نا امنۍ او د ګواښونو د کچو له امله، د سپتمبر پر ۲۸ ملګرو ملتونو خپل کارمندان له کندز ښار څخه ولیږدول. له دې وروسته، د طالبانو له خوا د ښار د نیونې پرمهال د ملګرو ملتونو کمپاونډونه/دفترونه سخت زیانمن او لوټ شوي وو. د سپتمبر له ۳۰ د اکتوبر تر ۹ مودې پورې، ملګرو ملتونو له بغلان، بدخشان او فاریاب ولایتونو څخه خپل کارمندان د احتیاطي تدبیر په څیر واښکل او په دغو موقعیتونو کې په موقت ډول عملیات وځنډول. د نومبر پر ۸ او ۱۰ په بدخشان او بغلان کې په ترتیب سره، عملیات بیرته پیل شول. په فاریاب ولایت کې د عملیاتو بیرته پیلول تر بیا کتنې لاندې دي، په داسې حال کې چې په کندز ولایت د ملګرو ملتونو تسهیلاتو ته د اوښتي زیان له امله د عملیاتو بیرته پیلول

محدود پاتې شوي. د سرک له لارې د ملګرو ملتونو د ماموریتونو د بدرګې پرمهال د ملي امنیت د ریاست کارمندان په اوو بریدونو کې په نښه شوي. د سپتمبر پر ۱۰ او د اکتوبر پر ۲۰ په دوو بریدونو کې د نوموړي ریاست ټولټال څلور کارمندان په جلال اباد ښار کې د سرک په ماموریتونو کې ټپي شوي. خو له دې سره سره په دغو پېښو کې د ملګرو ملتونو هیڅ کارمند نه دی ټپي شوی. د سپتمبر پر ۱۰ د برید مسوولت له داعش سره تړلې وسله والې ډلې پر غاړه واخیست، خو دغه ادعا تر اوسه نه ده تایید شوې.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۱۹.	د امنیتي او اقتصادي سیمه ییزې پراختیا لپاره پر رغنده ګډون ټینګار دوام درلود. د افغانستان په اړه د اقتصادي همکارۍ په شپږم کنفرانس کې چې د سپتمبر پر ۳ او ۴ په کابل کې دایر شو، ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبد الله عبد الله د ودې، پانګونې او پراختیایي ملاتړ لپاره پر بالقوه ساحو تمرکز وکړ او د تروریزم پر خلاف يې د سیمه ییزې همکارۍ اړتیا په ډاګه کړه. د سپتمبر پر ۲۶ د افغانستان په اړه په نیویارک کې په یوه لوړه کچه ناسته کې اجرائیه رییس په خپله وینا کې د سولې، اقتصادي ودې او سیمه ییزې همکارۍ  لپاره لومړیتوبونه په ډاګه کړل. د امریکا متحده ایالات او چین په یوه ناسته کې چې په د دواړو لورو له خوا په ګډه رهبري شوې وه، ژمنه وکړه چې له زیاتې شوې سیمه ییزې همکارۍ  مرسته وکړي. افغانستان همدارنګه د اقتصادي همکارۍ د سازمان د وزیرانو د شورا په فوق العاده ناسته کې د اکتوبر پر ۲ په نیویارک کې دایر شوې ګډون وکړ، په کومه کې چې په دې وروستیو کې د توافق شویو پرمختیایي موخو په اړه هم بحثونه شامل وو.

۲۰.	افغانستان او ایران اسلامي جمهوریت خپلې هڅې پر اقتصادي او پراختیایي همکارۍ متمرکزې کړې. د ټرانزیت او نړیوال ترانسپورتیشن همکارۍ په اړه د ایران-هندوستان-افغانستان د تړون په اړه د ماهرینو لومړۍ ناسته د دري اړخیزو اړیکو د پراختیا په موخه د سپتمبر پر ۲۲ په تهران کې ترسره شوه. په اکتوبر کې له ایران څخه د افغانستان د ښاري پراختیا او د کانونو او پټرولم وزیرانو لیدنې پر پانګونې او زیربنایي موضوعګانو متمرکزې وې.

۲۱.	د اسیا زړه-استانبول پروسه چې په ۲۰۱۵ کې د افغانستان او پاکستان له خوا ګډ رهبر شو، د خپلو چارو مخ ته بیولو ته دوام ورکړ. سیمه ییز تخنیکي ګروپونه د باور جوړونې د اقداماتو د جوړولو په پار د: سرایت کوونکو ناروغیو په اړه د اګست پر ۲۵ او ۲۶ په تهران کې سره وکتل؛ د سپتمبر پر ۸ په اسلام اباد کې د ناورین مدیریت؛ د سوداګرۍ، صنایعو او د پانګونې د فرصتونو په اړه د اکتوبر پر ۱ او د نومبر پر ۱۹ په نوي ډهلي کې؛ او د پوهنې په اړه د نومبر پر ۲۳ په تهران کې. د سپتمبر پر ۲۷، لوړ پوړو چارواکو په نیویارک کې سره وکتل څو د ډسمبر پر ۹ په اسلام اباد کې د وزیرانو د سرمشریزې لپاره د تیاریو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۲.	له افغانستان هاخوا د نا امنۍ بالقوه خپریدل د مرکزي اسیا د هیوادونو او د روسیې فدراتیف لپاره یوه اندېښنه ګڼل کیږي. د اکتوبر پر ۶، د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمانوف د روسیې له ولسمشر ولادیمر پوتین سره په یوه ناسته کې د ګډ امنیتي تړون د سازمان له غړو سره د هڅو د زیاتولو غوښتنه کړې څو د پولې امنیت ډاډمن کړي. د اکتوبر پر ۱۳، زما ځانګړي استازي په دوشنبې کې له ښاغلي رحمانوف سره وکتل څو د تروریزم د سیمه ییز ګواښ په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۳.	د چین د ولسمشر مرستیال لی یوانچو د نومبر پر ۳ له کابل څخه لیدنه وکړه، څو له ولسمشر غني او له اجرائیه رییس عبد الله سره وګوري. چین له هغو زیربنایي پروژو سره د مرستې ژمنه وکړه چې افغانستان له ګاونډیو هیوادونو سره نښلوي، د افغان دولت او طالبانو ترمنځ یې د سولې له پروسې سره خپله ژمنه بیا تازه کړه او د افغانستان له تروریزم سره د مبارزې او دفاعي وړتیاوو د ملاتړ لپاره یې خپل چمتوالی په ډاګه کړ.

۲۴.	د نومبر له ۱۶ تر ۱۹ پورې، د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال حکمت کرزي له هندوستان څخه لیدنه وکړه چې له دولتي چارواکو سره د سیمه ییز امنیت په ځانګړي ډول له تروریزم سره د مبارزې، او اقتصادي اړیکو په اړه د همکارۍ د پیاوړي کولو په تړاو خبرې اترې ترسره کړي.

۲۵.	د نومبر پر ۲۰ له قزاقستان څخه د ولسمشر غني د لیدنې پرمهال، هغه له ولسمشر نور سلطان نظر بایوف او لوړ پوړو چارواکو سره د سوداګرۍ، سیمه ییز امنیت او له تروریزم سره د مبارزې د هڅو د غښتلي کولو د وسیلو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. دواړو هیوادونو د کرنیزې سوداګیرۍ او له طبیعي ناورینونو سره د مبارزې په ګډون یو شمیر تړونونه او تفاهم لیکونه لاسلیک کړل.

۲۶.	افغانستان او پاکستان د نومبر پر ۲۳ په اسلام اباد کې د اقتصادي ګډ کمیسیون لسمه ناست ترسره کړه. په دغې ناسته چې د پاکستان د مالیې وزیر اسحاق ډر او د افغانستان د مالیې وزیر اکلیل احمد حکمي له خوا یې مشري کیده، پلاوو د سوداګریزو تړونونو او سیمه ییز اقتصاد او د انرژۍ د نښلون د زیربناوو په اړه مباحثې ترسره کړې.

۲۷.	د نومبر پر ۱۶، د افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په افغانستان کې د پکتیکا ولایت او د پاکستان په جنوبي وزیرستان کې د پولې په اوږدو کې د ادعا شویو ډزو په اړه بیانیې خپرې کړې.

**دریم. بشري حقونه**

۲۸.	د اګست د ۱ او اکتوبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما ۳۶۹۳ ملکي تلفات (۱۱۳۸ مړه او ۲۵۵۵ ټپي) مستند کړي، چې په ۲۰۱۴ کال د ورته مودې د شمیرو په پرتله ۲۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د راپور ورکولو په موده کې، ۵۴ سلنه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو، ۱۷ دولت پلوه ځواکونو (۱۲ افغان ملي امنیتي ځواکونو، ۱ سلنه دولت پلوه ملیشو او څلور سلنه نړیوالو نظامي ځواکونه ته) او ۲۷ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ نا منسوب شویو ډزو تبادلې ته منسوب شوي. دوه سلنه ملکي تلفات چې عمدتا له جګړې څخه پاتې شونو چاودیدونکو توکو د مخ کیدو له امله رامنځ ته شوي، کوم مشخص لوري ته نه شي منسوب کیدای. ځمکنۍ نښتې لا اوس هم د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیږي، چې له امله یې ۱۶۷۱ ملکي تلفات (۴۵۴ مړه او ۱۲۱۷ ټپي) اوښتي، چې په تعقیب یې ځانمرګي بریدونه له جګړې څخه پاتې شونې چاودیدونکي توکي مخکښ لاملونه دي. د بشري حقونو د مدافعینو په ګډون ولسي وګړي په دوامدار ډول د دولت ضد عناصرو له خوا په نښه شوي، څرنګه چې دغه کار د پام وړ شمیر پیښو کې تر سترګو شوی. په دې کې د سپتمبر پر ۲۷ په پکتیکا ولایت کې برید، چیرې چې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو وسیله د ولیبال لوبې په نښه کولو لپاره کارول شوې وه په

کومه کې چې ۱۷ ملکیان ووژل شول او ۶۰ ټپي شول، او د اکتوبر پر ۲۶ په جلال اباد ښار کې یو برید شامل دي، په کوم کې چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون دوه کارمندان ووژل شول او شپږ نور ټپي شول. د اکتوبر پر ۱۲، یوه نا پیژاند وسله وال په کندهار ښار کې د یوناما یوه کارمنده تورپیکۍ الفت په ډزو ووژله. د نوموړې د وژنې تر شا د هڅونې لامل نامعلوم دی.

۲۹. د طالبانو له خوا پر کندز ښار برید تر دوو اونیو سختې ښاري جګړې د اکتوبر پر ۱۳ وروسته له هغې پای ته ورسید کله چې طالبانو په رسمي ډول له ښار څخه وتل اعلان کړل. یوناما په ښار او شا و خوا ولسوالیو کې په رامنځ ته شویو پیښو کې د ملکي تلفاتو ۸۴۸ شمیرې (۲۸۹ مړه او ۵۵۹ ټپي) ثبتې کړي. د راپورونو له مخې د ملکي تلفاتو زیاته برخه د طالب جنګیالیو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوې، خو له دې سره سره یوناما د هدفي یا عمدي وژنو، د موازي عدلي سیستمونو د سزاګانو او هوایي عملیاتو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو راپورونه ترلاسه کړي. په دې کې د ملکي تلفاتو ۶۷ لومړني ارقام (۳۰ مړه او ۳۷ ټپي) شامل دي کوم چې د بې پولې ډاکټرانو له خوا پر یوه اداره کیدونکي روغتون د اکتوبر پر ۳ د امریکا د متحده ایالاتو د هوایي برید له امله رامنځ ته شوي، چې موضوع اوس مهال د افغان دولت او امریکا د متحده ایالاتو او ناټو تر جلا جلا څیړنو لاندې ده.

۳۰. زه دغه هوایي برید په کلکه غندم کوم چې په نوموړي روغتون کې د روغتیایي کارمندانو او ناروغانو د مرګ ژوبلې لامل شوی او یو ځل بیا د دې یادونه کوم چې د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې روغتیایي مرکزونه په څرګند ډول خوندي ګڼل شوي. زما په بیانیه کې، ما د دغه برید د بشپړې او بې پرې څیړنې غوښتنه کړې څو احتساب ډاډمن شي. د نومبر پر ۲۵، په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د ځواکونو قوماندان د امریکا د متحده ایالاتو د څیړنو د پایلو لنډیز خپور کړ چې په دا په ډاګه کوي، چې پر روغتون هوایي برید "د مخنیوي وړ انساني تیروتنې لامل چې د پروسې او وسایلو له ناکامۍ سره مل و" او دا چې "مناسب اداري او تادیبي/انضباطي اقدامات" به پورته شي.

۳۱. د سپتمبر پر ۲۸، طالبانو د بشري حقونو د مدافعینو، په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو د فعالینو، د نادولتي موسساتو کارمندانو، ژورنالستانو، د یوناما د کارمندانو، دولتي مامورینو او نورو ملکیانو د چمتو شوي لیست له مخې په کندز ښار کې کور په کور تلاشي پیل کړه. دغې سیستماتیکې تلاشي له ویرې ډک چاپیریال رامنځ ته کړ او له ښار څخه د دغه اشخاصو د پراخې بېځایه کیدنې لامل شوه.

۳۲. د وسله والو اشخاصو یا فرصت غوښتونکو مجرمینو له خوا د ترسره شوي تاوتریخوالي له ویرې، چې د ښځو د تښتونې او سیستماتیکو تلاشیو چې د ښځو د حقونو مدافعین یې په نښه کول، په اړه د لومړنیو راپورنو له خوا تقویه شوي، له کندز ښار څخه د ښځو په پراخې بېځایه کیدنې یو کلیدي فکتور و. د رسنیو له خوا د دغو موضوعاتو تر پراخ پوښښ وروسته، طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره په ډاګه کړه چې ګڼ شمیر افغان رسنۍ او د هغو کارمندان په راپور ورکولو کې د ښکیلتیا له امله نظامي اهداف ګڼل کیده. په شمال او شمال-ختیځ کې

عمومي امنيتي وضعيت په يو شمير ګاونډيو ولايتونو کې د هغو خدمتونو د موقتي ځنډيدنې لامل شوی چې موخه يې د سرپناوو/امن خونو په ګډون د زيانمنيدونکو ښځو حمايت و.

۳۳. په کندز کې د قانون د واکمنۍ ماتېدنې د يوه داسې چاپيريال په رامنځ ته کيدلو کې مرسته وکړه په کوم کې چې له معافيت سره خپل سرې وژنې، تاوتريخوالی او جنايتونه رامنځ ته شول. يوناما په دغې موده کې د بشري حقونو د جدي سرغړونو د تورونو څېړل روان ساتلي، چې د ادعاوو له مخې د جګړې د ښکيلو خواوو له خوا ترسره شوي.

۳۴. په هيواد کې د جګړې اړوند تاوتريخوالي د ماشومانو پر ژوند خپل ناوړه اغيز جاري ساتلی. د اګست د ۱ او اکتوبر د ۳۱ ترمنځ، د څارنې او راپور ورکونې په اړه هيوادنې کاري ځواک ۳۰۳ داسې پيښې تصديق کړې په کومو کې چې لږ تر لږه ۱۵۹ ماشومان وژل شوي او ۵۰۵ نور ټپي شوي. په داسې حال کې چې د راپور ورکونې له پخوانۍ مودې په پرتله دغه ارقام د ماشومانو په تلفاتو کې ۱۰ سلنه عمومي کموالی په ډاګه کوي، او ماشومان لا اوس هم د ټولو ماشومانو نږدې يو په څلورمه برخه جوړوي. د جګړې د ښکيلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کيږي، چې د ۳۶۵ هغو لامل شوي او په تعقيب يې له جګړې څخه پاتې شوني چاوديدونکي توکي دويم لامل دی چې دغه ډول ۱۳۶ تلفات يې اړولي. ډله ييز او ځانمرګي بريدونه د ماشومانو ۸۲ تلفات جوړوي، چې د تيرې ربع په پرتله له جګړې څخه د پاتې شونو چاوديدونکو توکو وروسته د ماشومانو د تلفاتو دريم مخکښ لامل دی. هوايي بريدونو، غير مستقيمو ډزو او اعدامونو د ماشومانو ټولټال ۸۱ تلفات اړولي. په عمومي ډول، د ماشومنو ۳۵۲ تلفات (۵۳ سلنه) دولت ضد عناصرو، او ۱۷۴ (۲۶ سلنه) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. د بريدونو د مشخصو ډولونو د څرنګوالی له امله لکه هغه چې د ډزو تبادله او له جګړې څخه پاتې شوني چاوديدونکي توکي په کې شامل دي، د ماشومانو ۱۳۶ تلفات د جګړې کومې مشخص لوري ته نه شوی کړای منسوب. په داسې حال کې چې د ښوونځيو او تعليمي کارمندانو په وړاندې د بريدونو شمير له ۴۱ څخه ۲۲ ته د پام وړ راکم شوی، پر کندز ښار د طالبانو بريد د ټولو ۴۹۷ ښوونځيو د تړل کيدو لامل شول، چې پوهنې ته له ۳۳۰۰۰ څخه د زياتو ماشومانو د لاس رسي د خنډ لامل شول. ۲۱ ښوونځيو ته پر زيان سربيره، طالبانو ۴ هغه د نظامي موخو لپاره کارولي. افغان امنيتي ځواکونو هم يو ښوونځي د دغې موخې لپاره کارولی. هيوادنې کاري ځواک په ننګرهار ولايت کې د شپږو ښوونځيو د جبري تړل کيدو، د تعليمي کارمندانو د تښتونې د يوې پيښې او د تعليمي کارمندانو د ګواښنې او تهديدونې د يوې پيښې په ګډون چې د پوهنې پر لاس رسي او د ښوونکو پر شتون يې منفي اغيزې درلودې او د راپورونو له مخې يې اغيزمن شوې سيمې پريښې، يو شمير پيښې په داعش پورې تړلو وسله والو ته منسوب کړي.

۳۵. په دغې موده کې، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په مشرۍ د بچه بازۍ په اړه د مدافعې کميټې د دغې کړنې د جرمي کولو په اړه د عدليې وزارت ته د يوه قانون طرحه ته وسپارله. په سپتمبر مياشت کې د افغان امنيتي ځواکونو له خوا د ادعا شويو تورونو په اړه د رسنيو تر پراخ پوښښ وروته، ولسمشر د سپتمبر پر ۲۳ د لوي څارنوال له دفتر، د کورنيو چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک

کمیسیون څخه تشکیل د یوې اداري جوړولو امر وکړ چې د ماشومانو د جنسي تیري قضیې وڅیړي، وڅاري او د هغه د مخنیوي لپاره یو ځانګړی د څار میکانیزم جوړ کړي او د دغه ډول کړنو مرتکبین تر عدلي لاندې ونیسي.

۳۶. د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) شمیره پریکړه لیک لپاره په جون میاشت کې د عمل د ملي پلان تر رسمي پیل وروسته، حکومت په مزار شریف او هرات کې د پلان د تطبیق دوامدار فعالیتونه پیل کړل، او د پلان د ملاتړ لپاره یې پر انټرنیټ انلاین پروګرامونه ترسره کړل او په ټول هیواد کې یې د ۱۱ نړیوالو پرانستو ورځو مراسم ترسره کړل، چې دغه ټول د ملګرو ملتونو په ملاتړ ترسره شوي. د پرانستې ورځې په مراسمو کې، ګډونوالو په سیاسي او سولې پروسو کې د ښځو د مهم ګډون د یقیني کولو اړتیا په ډاګه کړه. د راپور ورکولو په موده کې، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پام وړ شمیر موجود و. په پیښو کې یوه هغه شامله وه چیرې چې د اکتوبر پر ۲۵ په غور ولایت کې یوه ۲۱ کلنه ښځه له طالبانو سره تړلي ملا له خوا د زنا په تور په ډبرو سنګسار شوه. ولسمشر غني دغه پېښه وغندله او د هغې د څیړنې لپاره یې یو کمیسیون جوړ کړ.

۳۷. د سپتمبر پر ۲، ولسمشر غني د توقیف په اړه یو تقنیني فرمان صادر کړ کوم چې د ملکي او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون له احکامو سره په مغایرت کې ښکاري.[1] (دغه کنوانسیون د افغانستان له خوا تایید شوی.) په فرمان کې د نورو شیانو ترڅنګ راتلونکي احکام شامل دي: د تروریزم او ملي امنیت اړوند جرمونو د توقیف د مودې غځول؛ داسې شرط چې توقیف، څیړنې او محاکمې باید په جلا ځانګړي مرکزونو کې ترسره شي؛ او داسې "اقدامات" چې سترې محکمې ته د هغو اشخاصو د توقیف اجازه ورکوي که چیرې داسې "باوري معلومات" وړاندې شي چې دا په ډاګه کوي چې شخص به په "احتمال" سره په راتلونکي کې جرمونه ترسره کړي. سربیره پر دې، د توقیف موده له ۳ څخه ۱۰ ورځو ته او له قضایي کتنې پرته د عدلي تعقیب لپاره له ۱۵ ورځو ۶۰ ورځو ته غځول شوې. د دغو تدابیرو په اړه د بشري حقونو د مدافعینو له خوا اندېښنې راپورته شوې. ملي شورا لا تر اوسه دغه قانون نه دی کتلی.

۳۸. د سپتمبر پر ۲۸، د شکنجې د له منځه وړلو د عمل له ملي پلان سره سم، اجرائیه رییس د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې اویایمې ناستې ته په وینا کې، د شکنجې او نورو ظالمان، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند د منع د کنوانسیون د الحاقي پروتوکول د لاسلیک کولو ژمنه بیا تایید کړه.[2] د تایید له پروسې په موازې حال کې، افغان دولت د شکنجې د منع قانون د مسودې جوړولو هڅې جاري ساتلې.

## څلورم: د کابل پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستو همغږي

۳۹. په دغې موده کې، نړیوال بانک د ۲۰۱۵ کال خپل د اقتصادي ودې د مخ کته اټکلونې له ۲.۵ څخه ۱.۹ سلنې ته بیا وکتل، چې د ۲۰۱۴ کال د امنیتي لیږد او اوږدې انتخاباتي مودې پر اقتصادي باور اوږد مهاله اغیز منعکسوي. په اکتوبر میاشت کې افغانستان په اړه د نړیوال بانک د کلنیزو خپرو شویو معلوماتو سره سم، اټکل شوې چې د داخلي عایداتو د ناخالص تولید واقعي وده په ترتیب سره ۳.۱ سلنه او ۳.۹ سلنه زیاته شي، چې په

[1] د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ۲۲۰۰ (XXI) ضمیمه وګورئ.

[2] ملګري ملتونه، د *میثاق لړۍ*، ۲۳۷۵ ټوک، ۲۴۸۴۱ شمیره.

امنيتي چاپيريال کې په ښه والي او د اصلاحاتو په پياوړي خوځښت پورې مشروط ده. دغه راز پانګوال د باور جوړونې او اقتصادي ودې د تحريکولو لپاره د اقتصادي او مالي اصلاحاتو په دامدار تطبيق کې د يقينيتوب او ښه شوي شفافيت پر اهميت ټينګار وشو. د نومبر پر ۱۷، ولسمشر غني د اقتصادي ودې او ګمارنې د زياتونې په موخه د هڅوونکې بستې لومړنې تفصيلات اعلان کړل.

۴۰. په سپتمبر کې، د پيسو نړيوال صندوق د کارمند- څارل شوي پروګرام د پرمختګ لومړنۍ بيا کتنه بشپړه کړه، او په عمومي ډول يې د ساختاري اصلاحاتو د معيارونو په اړه د هيله بخښوونکي پرمختګ راپور ورکړی. په دې کې د عايداتو هغه نوي تدابير شامل دي چې په اګست کې د ولسي جرګې د رخصتيو پرمهال د ولسمشر د فرمان له خوا تنفيذ شوي، چې بيا وروسته په ملي شورا کې د عايداتو د تدابيرو لپاره د فرمان ميکانيزم په اړه قانوني نيوکې راپورته شوې. حکومت د دغو اندېښنو د حل لپاره د اړوندو قانوني وړانديزونو/طرحو د جوړولو لپاره ګامونه پورته کړي. د نومبر پر ۱۰، د ماليې وزارت خبر ورکړ چې دولت هغه بيا کتل شوي اهداف پوره کړې چې د پيسو له نړيوال صندوق سره ورباندې د ۲۰۱۵ کې نيمه يې کې هوکړه شوې وه. د روان کال عايدات د ۲۰۱۴ کال له ارقامو څخه ۱۷ سلنه لوړ دي، خو له اصلي تمويل شويو ارقامو څخه ۶ سلنه ټيټ دي. د مالي تشې خطر د عايداتو د راغونډونې د ښې کارکردګۍ او کنترول شويو لګښتونو له لارې راکم شوی.

۴۱. حکومت او پرمختيايي شريکانو د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې چې د سپتمبر پر ۵ د لوړ پوړو چارواکو په غونډه کې تاييد شوی و د ځان بسايني څارل پيل کړي. پر اوږد مهالو ژمنو سربيره، چوکاټ ځانګړنې هغو اصلاحاتو ته لومړيتوب ورکوي کوم چې بايد په راتلونکو ۱۸ مياشتو کې ترسره شي. د نومبر پر ۲، د ماليې وزارت د دوه اړخيزې حساب ورکونې د ژمنو په اړه د پرمختګ خپل راپور خپور کړ، چې له ۳۹ چارو د ۵ هغو ترلاسه کول په ډاګه کوي. په دې د پرمختيا د پلانونو لپاره د حکومت د تګلارې بيا له سره جوړول شامل و، چې له ۲۲ څخه ۱۲ ته د هغوي د شمير د راکمونې له لارې د پرمختيا د ملي پروګرامونو توحيد او سمون رانغاړي، لکه څرنګه چې د شپږو بين الوزارتي پرمختيايي کميسيونونو له خوا يې وړاندوينه شوې وه. په اکتوبر کې، د مرستندويانو د سرچينو د شتون د ارزونې په اړه تخنيکي مباحثې پيل شوې، څو د حکومت له لومړيتوبونو سره مرسته وکړي. تر چوکاټ لاندې د پرمختيا د پلانونو اصلاحات او د لومړيتوب ژمنې به د ۲۰۱۶ کال د وزيرانو د کچې د پرمختيايي کنفرانس لپاره تيارۍ رهنمايي کړي، کوم چې به د افغان دولت او اروپايي اتحاديې له خوا په ګډه رهبري شي. د ليرد د لسيزې ۲۰۱۵-۲۰۲۴ په اوږدو کې به د پرمختيا پايښت لرونکې مرستې خورا مهمې وي، څرنګه چې دولت د اقتصاد د پياوړتيا هڅه کوي او د عايداتو بنسټ پراخوي څو خپل پرمختيايي موخې پوره کړي.

۴۲. د نومبر له ۱۳ تر ۱۵ پورې له کابل څخه د هغې د ليدنې پر مهال، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام اداره کوونکې هيلن کلرک له ولسمشر غني او اجرائيه رييس سره وکتل. د هغې د ليدنو پر مهال، هغې د افغان ادارو د ظرفيت د لا زيات لوړولو، د پايښت لرونکو پرمختيايي موخو په ګډون د لومړيتوب لرونکو ملي پروګرامونو د ترسره کولو، او په دغه زمينه کې د واحدو ملګرو ملتونو په څير د چارو د ترسره کولو لپاره د دولت د غوښتنو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ ژمنتيا په ډاګه کړه.

۴۳. د راپور ورکولو په موده کې د ځینو شاتګونو سره سره، حکومت د اصلاحاتو د اجنډا د یوې هسته یې ژمنې په څېر له اداري فساد سره د مبارزې تدابیرو پرمخ بیول جاري ساتلي. د سپټمبر پر ۶، د خپلوان پالنې د اندېښنو له امله ولسمشر غني د یوه فرمان په صادرولو سره د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د بشري منابعو اړوند مسوولیتونه لغوه کړل. په فرمان کې، د ولسمشر غني د نهايي تایید لپاره، اړوندو وزارتونو ته د لوړ پوړو چارواکو د غوره کولو صلاحیت ورکړل شوی. له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ د تطبیق د څارنې عالي اداري له احکامو وروسته د روڼتیا او احتساب د دودونې لپاره، نږدې ۹۰ سلنه دولتي لوړ پوړو چارواکو له اداري فساد سره د مبارزې او تفتیش له عالي ادارې خپله شتمني ثبت کړې. خو له دې سره سره، د اکتوبر تر ۲۹ پورې، د عالي ادارې له خوا د واقعي تایید له تر اوسه ځنډېدلی. د اکتوبر پر ۲۱، له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې د بریښنايي پېژند پاڼو ملي پروژې د فساد په وړاندې د زیانمنتوب ارزونه خپره کړه، په کومه کې چې د کارمندانو د ګمارنې او تدارکاتو اړوند د پام وړ اندېښنې په ډاګه شوې. څرنګه چې یې د ولسمشر غني له خوا غوښتنه شوې وه، ارزونه د هغو اندېښنو په غبرګون کې ترسره شوه چې د ملي شورا او مدني ټولنې دغړو له خوا راپورته شوې وې. یوناما د مرستندویانو له استازو سره یو ځای، د شفافیت او احتساب کاري ډلې د هڅو تسهیلول جاري ساتلي څو له حکومت سره له اداري فساد سره د مبارزې د تدابیرو په تطبیق کې مرسته وکړي.

۴۴. د راپور ورکولو په موده کې، حکومت له اداري فساد سره د مبارزې د خپلواک کمیسیون د جوړونې په اړه له خپلې ارادې شاتګ ته اړ شو، ځکه چې اساسي یوازې د لوي څارنوال دفتر ته د دې اجازه ورکوي چې په رسمي ډول جرمي قضیې وڅېړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. د لوي څارنوال منصب لا تر اوسه خالي پاتې دی. له اداري فساد سره د مبارزې له تدابیرو سره د دولت ژمنتوب د نومبر پر ۴ له ترسره شویو مراسمو وروسته د عامه بحثونو موضوع ګرځېدلې، کوم چې د ښاري پراختیا د وزارت او د هغه شخص ترمنځ چې د کابل بانک موضوع په تړاو د اداري فساد په تور بندي شوي، د ملکیت د لاسلیک کولو معامله په ډاګه کوي. د نوموړې معاملې په اړه د تفاهم یاداښت بیا وروسته لغوه او باطل شو او د ولسمشر حقوقي مشار په دغه تړون کې د هغه د ادعا شوي رول په تسهیلولو کې له دندې ګوښه کړای شو. د دغې معاملې د شرایطو د څېړلو لپاره ګمارل شوي کمیسیون خپل کار د نومبر په درېیم اونۍ کې پیل کړ. تمه کېږي چې د څېړنو پایلې په افغانستان او نړیواله ټولنه کې د پام وړ پاملرنې له تمرکز څخه برخمنې دي.

**پنځم. بشري مرستې**

۴۵. په هیواد کې عمومي بشري وضعیت لا اوس هم له ګواښ ډک دی، په تېره بیا د تشدید شوې جګړې او د اکتوبر د ۲۶ زلزلې د یوځای کیدنې له امله په شمال ختیځو سیمو کې. د پیښو زیات شوی شمیر هغه دوامداره ننګونې په ډاګه کوي چې مرستندویه عملیات ورسره مخ دي. بشري ننګونو ته د رسیدګۍ د اهمیت په درک کولو سره، د ولسمشر له خوا د یوه فرمان په صادریدو سره د افغانستان د طبیعي ناورین د مدیریت د اداري موقف وزارت ته لوړ شو، او ویس برمک د ناورین د مدیریت او بشري چارو د دولت د وزیر په څېر وګمارل شو.

۴۶.	د کندز ښار په شاوخوا سیمو کې د جګړې زیاتیدل، په تیره بیا د طالبانو له خوا یې نیول کیدل، له دغه ولایت څخه د لږ تر لږه د ۱۷۰۰۰ کورنیو د بېځایه کیدنې لامل شوې. روغتیایي مرکزونه او ښوونځي تړل شوي وو؛ د بریښنا او مخابراتي خدمتونه په کندز ښار کې مختل شوي؛ او امنیتي ګواښونه له ښار څخه د ملګرو ملتونو په ګډون د زیاترو بشري فعالینو د جبري وتلو لامل شوي. د اکتوبر پر ۵، زما ځانګړي استازي د ولسمشر غني په غوښتنه کابینې ته په کندز ښار کې د بشري حقونو او بشري وضعیت په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل. د بشري مرستو د ځنډ د بیرته پیل لپاره د ملګرو ملتونو وړاندیز، چې سازمان ته اجازه ورکړي چې په کندز کې ولسي وګړو ته خواړه او درمل ورسوي، له ولسمشر سره شریک شو خو د ښار د بیرته نیونې له ملو پیښو له امله له پامه وغورځول شو.

۴۷.	د اکتوبر په وروستیو کې، راپورونو په ډاګه کړه چې د داخلي بېځایه شویو وګړو ۹۰ سلنه یې په خپل سر/خوښه کندز ته ستانه شوي. د ګڼ سکتوریزې چټکې ارزونې سره سم چې د اکتوبر پر ۳۱ خپرې شوې، د اټکل له مخې ۹۰۰۰۰ خلک د بیړني حالت له امله اغیزمن شوي او نږدې ۷۰۰۰ کورنیو د جګړې له امله د خپل عاید سرچینې له لاسه ورکړي. په شمال کې جګړې ته په غبرګون کې، ملګرو ملتونو او د هغوي همکارو ادارو تر اوسه له ۵۰۰۰ څخه زیات د روغتیا پالنې بستې او ۶۶۰۰ د نور اجناسو بستې ویشلي؛ د کابو ۱۲۰۰۰ کورنیو لپاره د یوې میاشتې راشن هم ځانګړی شوی.

۴۸.	په شمال، شمال ختیځ او ختیځ کې کې پر ولسي وګړو د جګړې اغیز د ۷.۵ درجې زلزلې له امله لا پسې ناوړه شوی، کومې چې د اکتوبر پر ۲۶ د هیواد شمال ختیځې سیمې وخپلې. دغې زلزلې لږ تر لږه د هیواد ۱۶ ولایتونه اغیزمن کړل چې له ۱۳۵۰۰۰ زیات خلک یې د بشري مرستو اړتیا ته اړ کړل. د نومبر تر ۱۷ پورې د ګډې ارزونې څخه را ولاړ شوي تایید شویو راپورونو په ډاګه کړه چې دغې زلزلې ۱۱۵ کسان وژلي او ۵۲۲ نور یې ټپي کړل، ۱۲۲۵۹ کورونه یې زیانمن کړي او ۷۲۹۹ نور یې ویجاړ کړي. د مړینو او ژوبلو شمیر په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې لوړ و، سره له دې چې ملکیت ته تر ټولو زیات زیان په بدخشان ولایت کې د زلزلې مرکز ته څېرمه رامنځ ته شوی.

۴۹.	افغان دولت څوک چې د زلزلې ارزونه او د غبرګون هڅې رهبري کوي، د تمویل په پار ۷۷۰۰۰۰ امریکایي ډالر ورکړل؛ او د ملګرو ملتونو د مشترک بشري صندوق څخه ۳ میلیونه امریکایي د بیړني حالت لپاره تخصیص شوي. په دغو تمویل کې د ژمي تر رارسیدو مخکې، کله چې به واوره اغیزمن شویو سیمو ته لاس رسی محدود کړي، کوم چې لا وار د مخه د غرنیزې جغرافیا او نا امنۍ له امله ستونزمن دی، د اغیزمن شویو ټولنو د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو ملاتړ هم شامل دی. په لسګونو بشري فعالینو د سرپناوو، خوړو او نورو اجناسو اړوند اړتیاوو ته ځواب ویلی. د نومبر تر ۱۷ پورې، د له ۷۷۰۰۰ څخه زیاتو کسانو لپاره د غیر خوراکي توکو او له ۸۷۵۰۰ څخه زیاتو کسانو د خوړو د برابرولو په ګډون نږدې ۹۵۰۰۰ کسانو مرستې ترلاسه کړي. د بیړنیو سرپناوو د مرستې په استثنا سره، تمه ده چې په افغانستان کې د لاس رسي وړ زیرمې به ځواب ویلو لپاره بسیا وي.

۵۰.	د ملګرو ملتونو له ارزونو سره سم چې په سپتمبر کې بشپړې شوي، په ۲۰۱۵ کال کې د هیواد په جنوبي، مرکزي، لویدیځو او ختیځو برخو کې د پام وړ بېځایه کیدنه رامنځ ته شوې. د جنوري او سپتمبر تر منځ شاو خوا ۲۳۵۰۰۰ کورنۍ بېځایه شوي، د ۱۷۰۰۰ کورنیو پرته چې په موقت ډول د کندز د ناورین پر مهال بېځایه شوې وې. دا په ۲۰۱۴ کې د ورته مودې په پرتله نږدې ۷۰ سلنه زیاتوالي وړاندې کوي. اوسني آټکلونه په ډاګه کوي چې د کال تر پایه به له ۴۵۰۰۰ څخه زیاتې کورنۍ یا ۳۰۰۰۰۰ اشخاص شایي د جګړې له امله بېځایه شي، چې دا په بالقوه ډول ۲۰۱۵ کال په افغانستان کې د ۲۰۰۲ کال راهیسې د جګړې له امله بېځایه کیدنې ترټولو ناوړه کال جوړوي.

۵۱.	د راپور ورکولو په موده کې په هلمند ولایت کې د افغان ملي امنیتي ځواکو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ نښتې سختې شوي، چې په پایله کې یې په اټکلي ډول ۲۰۵۴ کورنۍ بېځایه شوي، چې په تعقیب یې له ۹۵۹ کورنیو سره د اجناسو، روغتیا پالنې بستو او نغدو پیسو مرسته شوې. په ننګرهار ولایت کې، راپورونه په ډاګه کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو او له داعش ډلې سره د ترلو وسله والو ترمنځ د نښتو له امله د پام وړ وګړي بېځایه شوي. د ملګرو ملتونو او د هغوي د همکارو ادارو له خوا ترسره شوې لومړنۍ ارزونې څرګندوي چې لږ تر لږه ۴۷۰۰ کورنۍ مرستو ته اړتیا لري. په ولایتونو کې له بېځایه کیدو پرته، کابل ولایت لا اوس هم د پام وړ بېځایه شوي وګړو جذبوي، چې لږ تر لږه ۳۰۰۰ کورنۍ مرستو ته اړتیا لري. افغانستان لا اوس هم له پاکستان څخه د نږدې ۲۲۷۰۰۰ کډوالو کوربه دی، څوک چې په شمالي وزیریستان کې د نظامي عملیاتو له امله د هیواد له جنوب-ختیځو برخو راتیر شوي. افغان دولت، له ملګرو ملتونو او د هغوي له همکارو ادارو سره یو ځای دواړو کډوالو او کوربه ټولنو ته د مرستو برابرول جاري ساتلي.

۵۲.	له اګست راهیسې، د پولیو د له منځه وړلو هڅې د هیواد په اوږدو کې د لاس رسي له نوو ننګونو سره مخ شوي، په تېره بیا د هیواد په ختیځو او جنوبي سیمو کې. د دولت ضد عناصرو عملیاتو په زیات شمیر ولسوالیو کې د واکسیناسیون ټیمونو لاس رسی له ګواښ سره مخ کړي. په کندهار ولایت کې د مخکیني بندیز د خوشې کیدو سره سره، د مختلفو لاملونو لپاره نور کوچي جغرافیایي محدود شوي بندیزونه وخت نا وخت رامنځ ته شوي. د معافیت د ملي ورځې کمپاین، چې د نومبر له ۱ تر ۵ پورې ترسره شو، نږدې ۸.۹ میلیونه ماشومان یې په نښه کړي وو. له دغو ټولو هڅو سره تر دې نېټې، په افغانستان کې په ۲۰۱۵ کال کې د پولیو ټولټال ۱۶ قضیې تصدیق شوي. د راپور ورکولو په موده کې په آچین ولسوالۍ کې څلورو هغو په ګډون په ننګرهار ولایت کې د اتو نورو قضیو راپور ورکړل شوی. له داعش سره ترلو وسله والو په اچین، کوټ او ده بالا ولسوالیو د واکسیناسیون د کمپاینونو په ګډون د بشري فعالیتونو د لاس رسي مخه نیولې.

۵۳.	د کډوالۍ اوږد مهاله وضعیت ته د رسیدګۍ لپاره سیمه ییزو هڅو د راپور ورکولو په موده کې سرعت ترلاسه کړی. د اکتوبر پر ۶ او ۷ د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د پروګرام اجرایي کمیټې د ناستې پرمهال، د حل لارو د ستراتیژۍ تر چوکاټ لاندې د افغان کډوالو په اړه مباحثې د هغوي د مرحله یي او خپلې خوښې ستنیدنې او دوامداره ادغام سره پر ملاتړ متمرکزې وې. اوس مهال ایران او پاکستان په ترتیب سره د شاو خوا د ۹۰۰۰۰۰ او ۱.۵ میلیون ثبت افغانانو کوربه دي. د ملګرو ملتونو د خپلې خوښې ستنیدنې د پروګرام له

لارې د افغان کډوالو د راستنيدنې کچه د ۲۰۱۴ په پرتله د پام وړ لوړه ده، چې د ۲۰۱۵ د جنوري د ۱ او اکتوبر ۲۴ ترمنځ ۵۵۸۴۳ اشخاص هيواد ته راستانه شوي، په ځانګړي ډول له پاکستان څخه. د راستنيدونکو د څارنې په اړه تبصرې له پاکستان څخه په ستونزمنو شرايطو کې د راستنيدونې په اړه انديښنې را ولاړې کړي.

۵۴. د راپور ورکولو موده کې، د افغانستان د ملي شورا غړو له هيواد څخه د افغانان د دوامدارې پريښودنې د انديښنو په اړه خبرې اترې ترسره شوې، څرنګه چې پې راپورونه په ډاګه کوي له ۸۰۰۰۰ څخه شاو خوا ۱۴۶۰۰۰ د پناه غوښتنې غوښتنليکونه چې د اروپايي اتحاديې د غړو هيوادونو له خوا تر لاسه شوي، د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ او اکتوبر د ۳۱ مودې پرمهال د افغانانو وو.

۵۵. د ماين پاکۍ همکارانو، چې د ملګرو ملتونو له خوا همغږي کيږي، د ۲۰۱۵ کال په دريېمه ربع کې ۷۸ د ماينونو ساحې او څلور د جګړو ډګرونه پاک کړي. اټکل کيږي چې ۴۳۴۱ د ماينونو ساحې او د جګړې ډګرونه لا اوس هم پر ماينونو ککړې دي، چې په ۲۵۸ ولسواليو کې ۱۶۰۷ ټولنې اغيزمنې کوي. د طالبانو تر نيونې وروسته په کندز ښار کې د چاوديدونکو وسلو کارونې ته په غبرګون کې، ملګرو ملتونو د اکتوبر له ۱۵ راهيسې دغه ښار ته د ماين پاکۍ د همکارانو ليږدونه همغږې کړې چې بيړنۍ سروې او د ماين پاکۍ عمليات ترسره او د ماينونو دخطرونو په اړه روزنه برابر کړي. په سلګونو چاوديدونکې توکي له منځه يوړل شول.

۵۶. د اګست له ۱ د اکتوبر تر ۳۱ پورې، په ۷۴ پيښو کې د بشري چارو پر کارمندانو، شتمنيو او مرکزونو بريدونه شامل وو، د ۴۲ کارمندانو د تښتونې په ګډون کومې چې د ملګرو ملتونو د نړيوالې څارنې له چوکاټ سره ثبتې شوي. دغو بريدونو د بشري مرستو د ۲۱ کارمندانو ژوند واخيست او ۴۸ نور يې ټپي کړل. په کندز ښار کې د بې پولې ډاکټرانو له خوا پورته ياد شوی بريد تر ټولو مرګونی بريد و، چې ۳۰ کارمندان يې ووژل او ۳۷ نور يې ټپي کړل. تر وژنو هاخوا، څرنګه چې دغه مرکز د افغانستان په شمال ختيځ کې د خپل ډول يوازينی هغه و، د روغتون ويجاړتيا روغتيايي خدمتونو ته پر لاس رسي د پام وړ اغيز درلود.

۵۷. د اکتوبر له ۳۱ راهيسې، د ۲۰۱۵ کال د بشري غبرګون ستراتيژيک پلان ۵۹ سلنه تمويل شوی. په ټوليز ډول بشري تمويلونه ۳۵۹ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيدلی، چې ۲۴۵.۵ يې د هغو فعاليتونو لپاره ځانګړي شوي کوم چې د بشري غبرګون په ستراتيژيک پلان کې پيشبيني شوي او ۶۳ ميليونه امريکايي ډالر د سره صليب نړيوالې کميټې او سرې مياشتې ټولنې ته. د ملګرو ملتونو د بيړنې غبرګون مرکزي صندوق د نږدې ۷ ميليونو ډالرو لپاره د چټک غبرګون غوښتنليک د نومبر پر ۱۸ وړاندې شو. دغه مرسته به د هغو بشري فعالينو لپاره وکارول شي څوک چې د ژمي په مياشتو کې د بيړنيو سرپناوو د حل په ګډون، په افغانستان کې د زلزلې اړوند اړتياوو او په شمال لويديځ کې د شخړې اړوند چاپيريال ته ځواب وايي.

**شپږم. له نشه يي توکو سره مبارزه**

۵۸. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر "د افغانستان د آپيومو د سروې" راپور اجرايي لنډيز د اکتوبر پر ۱۳ خپور کړ. په راپور کې ملاحظه شوې چې په ۲۰۱۴ کال کې د کوکنارو تر کښت لاندې ۲۲۴۰۰۰ هکتاره ساحې په پرتله په ۲۰۱۵ کې د نږدې ۱۸۳۰۰۰ هکتاره ساحې په درلودو سره ۱۹ سلنه راکمه شوې. دا له ۲۰۰۹ کال راهيسې د کښت په ساحه کې لومړی کموالی وړاندې کوي. په ۲۰۱۵ کال کې د آپيومو بالقوه توليد تر دې دمه ۳۳۰۰ ټنه دی چې د ۲۰۱۴ کال د ۶۴۰۰ ټنو د کچې په پرتله ۴۸ سلنه کموالی په ډاګه کوي. له دغو کموالو سره سره، له کوکنارو څخه د پاکو ولايتونو شمير هم کم شوی. هلمند ولايت د ۸۶۴۰۰ هکتاره (د ملي ټولټال ۴۷ سلنه) په درلودو سره د هيواد يو له هغو هيوادونو څخه چيرې چې تر ټولو زياد کوکنار کرل شوي، چې په تعقيب يې د فراه، کندهار او بادغيس ولايتونه ګڼل کيږي. د توليد کموالی کيدای شي تر کښت لاندې ساحه کې کمښت ته منسوب شي، خو تر ټولو مهم دغه کموالي د هر هکتار پر سر په حاصل کې د کمښت له امله دی. د حاصل کموالی د کښت په تولو سترو سيمو کې رامنځ شوی، چې زيات يې په جنوبي سيمه کې ۴۵ سلنه کموالی او په تعقيب يې په لويديځه سيمه کې ۲۰ سلنه کموالی او په ختيځه سيمه کې ۸ سلنه کموالی رامنځ ته شوی.

۵۹. د ۲۰۱۵-۲۰۱۹ لپاره له نشه يي توکو سره د مبارزې ملي پلان د ولسمشر غني له خوا د اکتوبر پر ۱۵ تاييد شو. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت له خوا طرح شوي د له نشه يي توکو سره د مبارزې ملي پلان پر پايښت لرونکو پرمختيايي او کرنيزو بديلونو او پيسو پر مينځلو او شتمنيو پر سپينولو پر بنديز، او پر سيمه ييزې او نړيوالې همکارۍ تمرکز کوي. نوموړي پلان د نشه يي توکو له ناقانونه توليد، سوداګرۍ او کارونې سره د مبارزې لپاره د افغانستان د يوې متوازنې، هر اړخيزې، همغږې او پايښت لرونکې تګلارې د تعقيب اداره په ډاګه کوي.

۶۰. د اګست له ۱۲ د نومبر تر ۱۵ پورې، د قانون نافذوونکو افغان چارواکو د نشه يي توکو پر وړاندې ۶۲۱ عمليات ترسره کړي چې په پايله کې يې کابو ۱۰۶۰۰ کيلو ګرامه نشه يي توکي ضبط کړي چې له ۶۷۳ کيلو ګرامه هيروينو، ۵۰۸۳ کيلو ګرامه آپيومو او ۴۸۴۸ کيلو ګرامه چرسو، او پر دې سربيره ۴۹۳ کيلو ګرامه جامد کيمياوي پيش سازه توکو، ۸۷۳ ليټره کيمياوي پيش سازه مايع توکو جوړ دي او دغه راز ۷۰۵ شکمن کسان نيول شوي او ۱۶۴ نقليه وسيلې او ۱۵۸ وسلې نيول شوي. د عملياتو د ترسره کولو پرمهال د افغان ملي دفاعاي او امنيتي ځواکونو ۸ غړی وژل شوی او ۱۵ نور ټپي شوي.

۶۱. د سپتمبر له ۲۱ تر ۲۴ پورې، ملګرو ملتونو د پيسو او د ارزښت د ليږد خدمتونو د ناقانونه کارونې په اړه د دريم سيمه ييز ورکشاپ سره مرسته کړې. په دغو مراسمو کې د افغانستان د مالي استخباراتو د واحدونو او تاجکستان ترمنځ يو تفاهم ليک لاسليک شو، کوم چې د شکمنو مالي ليږدونو په اړه د معلوماتو د شريک کولو لپاره بنسټ برابروي او دغه راز له ناقانونه مالي جريانونو سره مبارزه وکړي.

**اوم. د ماموريت ملاتړ**

۶۲. په شمالي سيمو کې اميتي وضعيت په غبرګون کې، د ملګرو ملتونو کارمندان په موقت ډول د کندز، بغلان، فارياب او بدخشان ولايتونو څخه وليږدول شول، يوه داسې چاره د ملګرو ملتونو د هوايي ملاتړ په مرسته ترسره شوه. يوناما د ماموريت هغو کارمندانو لپاره ملاتړ برابر کړی چې له ليږد څخه اغيزمن شوي، څو هغوي د دې جوګه کړي چې خپل کار ته دوام ورکړي. په کندز کې د يوناما دفتر په سخت ډول اغيزمن شوی. يوناما له يوې نوې ودانۍ سره د اجارې تړون لاسليک کړی په کومه کې د معلوماتي تکنالوژۍ د اړينو وسايلو او د امنيتي استحکاماتو نصبولو ته اړتيا ده، څو د دغه سازمان د احد اقل عملياتي امنيتي معيارونو سره تطابق ډاډمن کړای شي. د چمتوالي د معرفي فعاليتونو تر بشپړيدو وروسته، د نومبر پر ۹ په يوناما کې د اموجا پلاټفورم بل پړاو پيل شو.

**اتم. ملاحظات**

۶۳. افغانستان لا اوس هم له سخت امنيتي، اقتصادي او سياسي ننګونو سره مخ دی، چې ګډې اغيزې يې په بشپړ ځواک سره د راپور ورکولو په موده کې ثبتې شوي. امنيتي وضعيت له څرګند خرابوالي سره مخ شوی څرنګه چې طالبانو او دولت ضد عناصرو خپل فعاليتونه پراخ کړي، په کومو کې چې په موقت ډول د کندز ښار نيول هم شامل دي. دغه پيښه له داسې موجوده اقتصادي چاپيريال سره مل د دوامدارو ستونزو سرچينه ده، چې په سياسي فضا کې يې زياتيدونکي سيالۍ رامنځ ته کړې، څرنګه چې د سياسي نخبګانو او عامو خلکو ترمنځ مباحثې لا زياتې راپورته شوې. د دغو ننګونو يو ځای کيدنې افغانستان په يوه داسې ځای کې مونډلی چيرې چې د راتلونکي په اړه نه باوريتوب زيات شمير افغانان له هيواد څخه کډوالۍ ته اړباسي او د دومدارې نړيوالې مرستې لپاره اړتيا خورا زياته ده.

۶۴. دا لومړی کال و په کوم چې افغانستان د نړيوال نظامي ملاتړ د هغې کچې يا شکل پرته ځان په يوه داسې حالت کې وموند، کوم چې په تيره لسيزه کې برابر شوی و. افغان امنيتي ځواکونو تر ډيره د زياتيدونکو فشارونو په وړاندې مقاومت وکړ او دا وړتيا يې په ډاګه کړه چې سيمې بيرته تر خپلې ولکې لاندې روالي په موقت ډول د بلواګرۍ تر کنترول لاندې وې. که څه هم له تېښتې او تلفاتو سره يې لوړې وې، دغه راز غوښتنې هم کومو ته چې د نړيوال ملاتړ سره ځواب ويل شوی. سريره پر دې، د بلواګرو ډلو ترمنځ د خپل منځي تاوتريخوالي راپورونه د مخ په زياتيدونکې بې ثباته او پيچلي امنيتي وضعيت نښه ګڼل کيږي. زه د غړو هيوادونو د خپلو ژمنو د تاييدولو په اړه هغو وروستيو خبرتياوو هرکلی کوم چې له افغان امنيتي ځواکونو سره د هغوي له هڅو سره مرسته کوي چې هيواد ته امنيت او ثبات راولي.

۶۵. حکومت د عايداتو د راغونډونې، له اداري فساد سره د مبارزې، او د سيمه ييزې سوداګرۍ په خير د اقداماتو له لارې د اقتصاد د بيرته پياوړي کولو په هڅه کې دی کوم چې د ۲۰۱۴ کال د سياسي او امنيتي ليږدونو له امله اغيزمن شوی. سره له دې چې د اقتصادي ودې د نمو لپاره اړين طرح شوي، خو لاسته راوړنې لا تر اوسه سوکه دي، ځکه اصلاحات بايد ځواک ومومي او مالي توحيد بايد د استخدام په رامنځ ته کولو واوړي. په داسې حال کې چې د مالي د عايداتو او د نورو ساختاري اصلاحاتو معيارونه د پيسو د نړيوال صندوق د کارمند- له خوا

تر څارل شوي پروګرام لاندې اندازه شوي هیله بخښوونکي دي، دواړه حکومت او نړیوال پرمختیایي شریکباني باید د افغان اقتصاد پر باور جوړونې خپل تمرکز روان وساتي. مخکې له دې چې په ۲۰۱۶ کال کې د ژمنې کولو کنفرانسونه دایر شي، په دې برخه کې په ځانګړي ډول دوه اړخیزه هڅې مهمې دي.

۶۶. د راپور ورکولو په موده کې پر دولت د متمرکزو فعالو مباحثو د پراخې بسیجونې نوي پړاو موجود و، چې اپوزیسیون د خپلو نظریو په وړاندې کول کې لا زیات زړه ور وو. په داسې حال کې چې دولت د ډیالوګ او ټول شمولیت هرکلی کړی، خو دا نه باید د کلیدي اصلاحاتو د نه تطبیق په بیه تمام شي، لکه د ورتیا پالنې غښتلي کول، له اداري فساد سره مبارزه او افغان وګړو ته د خدمتونو برابرول. زه له نړیوالې ټولنې د حکومت د ملاتړ او سیاسي فضا ته د هغه د داخلولو او د دې پیغام لپاره چې ټول باید د افغانستان په ګټه کار وکړي، د یو موټي کیدو مننه کوم.

۶۷. د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون له خوا اعلان شوې سپارښتنې په انتخاباتي ادارو او ټاکنو د خلکو د باور د پیاوړي کولو په پروسه کې یو مهم ګام ګڼل کیږي. زه هیله لرم چې کمیسیون به د انتخاباتي پروسې پایښت، ریښتینوالي او روڼوالي ښه کولو ته د په ډاګه شوې ژمنې له لارې ناحل شوې موضوعګانې د اجماع پر بنسټ حل کړي. ملګري ملتونه به د اصلاحاتو له دغې پروسې سره د سلا مشورو او تخنیکي ملاتړ د برابرولو له لارې خپل ملاتړ جاري وساتي.

۶۸. افغان ولسي وګړي لا اوس هم د جګړې بار زغمي، څرنګه چې هغو په ډزو کې ګیر دي، د بې توپیره بریدونو قربانیان دي او له هدفي وژنو سره مخ دي. د ولسي وګړو د مرګ ژوبلې او د بشري حقونو د سرغړونو د راپورونو د ښځو هغو په ګډون، زیاتیدونکې شمیرې خورا هېښوونکي دي. زه د بشري حقونو د مدافعینو په نښه کول او وژل چې د یوناما داخلي کارمنده آغلې تورپیکۍ هم په کې شامله وه، غندم. زه د جګړې ټولو ښکیلو خواوو ته یو ځل بیا د دې یادونه کوم چې دا خورا اړینه ده چې دوي د بشري حقونو او د بشرپالنې تر نړیوالو قوانینو لاندې خپل مکلفیتونو ته درناوي وکړي، څو د روغتیایي مرکزونو په ګډون، ولسي وګړو او ملکي شیانو په ضد خپل بریدونه ودروي.

۶۹. جګړه د وګړو د بېځایه کیدنې او اړوندو ټولنیزو-اقتصادي اغیزو له لارې د زیاتو ستونزو او کړاو لامل کیږي، چې د بشري غبرګون پر میکانیزمونو فشار لا زیاتوي. له بل پلوه، د افغانانو په مشرۍ د اکتوبر زلزلې ته غبرګون/ځواب ویلو ناورین ته په ځواب ویلو کې زیاتیدونکې ملي ورتیاوې په ډاګه کړي؛ او د ناورینونو سره د مبارزې او بشري چارو د دولت وزیر ګمارنه یو مثبت پرمختګ ګڼل کیږي. خو له دې سره سره، له کندز ښار څخه د بېځایه کیدنو رسیدګۍ ته د اړتیا په ګډون ګڼ شمیر ناورینونو بشري منابع راکم کړي. د دغو منابعو بیرته پوره کول د هغو بالقوه غوښتنو رسیدګۍ لپاره خورا مهم دي، کومې چې ښایي د ژمي په موده کې زیاتې شي. زه له ګړو هیوادونو غوښتنه کوم چې له بشري مشترک صندوق سره د مالي مرستې له لارې خپل ملاتړ روان وساتي.

۷۰. د سولې پروسې د پیلولو هڅې له معضلې سره مخ دي. سره له دې چې د طالبانو له خوا په عامه اعلامیو د سیاسي حل اهمیت منلی، خو دغې ډلې لا تر اوسه له افغان دولت سره د مستقیمو خبرو اترو لپاره کومه ژمنتیا

نه ده په ډاګه کړي. په افغانستان کې د یوه سوله ییز راتلونکي د ترلاسه کولو لپاره د سیاسي حل بدیل نشته؛ او زه د پاکستان، چین او د نړیوالې ټولنې د نورو غړو هیوادونو له خوا د هغو نویو اعلامیو هرکلی کوم، کومې چې د افغانانو په مشرتابه د سولې له پروسې سره د هغوي چمتوالی په ډاګه کوي. زه له غړو هیوادونو غوښتنه کوم چې په افغانستان کې ثبات تسهیل کړي او تر شوني بریده پر طالبانو له خپل نفوذه کار واخلي څو هغوي د دې جوګه کړي چې له افغان دولت سره مستقیم خبرې اترې پیل کړي. زما ځانګړي استازي د ټولو فرصتونو پلټل روان ساتلي څو له افغان دولت سره په بشپړو سلا مشورو د سولې پروسه پر مخ یوسي.

۷۱. امنیتي وضعیت د ملګرو ملتونو پر هڅو منفي اغیز جاري ساتلی څو په هیواد کې خپلې چارې او پروګرامونه ترسره کړي. د هغوي د خوندیتوب د ډاډمن کولو په موخه له یو شمیر ساحوي دفترونو څخه د کارمندانو تر موقتې لیږدونې وروسته، ملګرو ملتونو په هغو ساحو کې خپل عملیات بیرته پیل کړي چیرې چې امنیتي وضعیت اجازه ورکوي. سربیره پر دې، له داعش سره د ټرلو وسله والو ډلو راڅرګندیدنې د تښتونې او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د کارونې د ډله ییزو بریدونو د پیښو په اړه د ملګرو ملتونو لپاره د خوندیتوب او امنیت په تړاو د پام وړ اندېښنې راولاړې کړي.

۷۲. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي ښاغلی نیکولاس هیثم څخه تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د دوامدار تعهد لپاره چې موخه یې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.